عبدالحفیظ ملیار

۲۰۱۶/۰۸/۱۸

# د افغانستان د آزادي د ورځ په وياړ

که وواﻳﻲ سلام زما په شاه امان الله خان باندی
دا ملی اتل ملی رهبر او قهرمان باندی
گرانه ننگرهاره

دا وه د عزت ننګ او ناموس او حریت مین
دا د ازادی او او سرلوړی او شرافت مین
قبر يي ورته وینځه د عطرونو په باران باندی
گرانه ننگرهاره

گرانه ننگرهاره ماته بیا د گلو هار جوړ کړه
بیا د ملنگ جان د ارمانو د زړه پرهر جوړ کړه
که جوړه پښتونخوا شی بیا به يي ړدم فخرافغان باندی
گرانه ننگرهاره

جار شه له ملالی د هغی غيرتی ننگ ځینی
بیا د خوشحالخان دا د قلم او طوری شرنگ ځینی
درود د رحمت وایه په نا زو او احمد خان باندی
گرانه ننگرهاره

لاړ شه میرویس خان ته په شملی يي عطر وشینده
ځومره چی کیدای شی په جرگی يي عطر وشینده
بیا می سلام وایه لوی اتل مو اکبر خان باندی
گران ننگرهاره

ای حفیظ ملیاره مونږ ښایسته ښایسته گلان لرو
پت چی د وطن ساتی مونږ داسی شازلمیان لرو
لوړ د وی بیرق د ازادی افغانستان باندی

گرانه ننگرهاره



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com